United Nations
Assistance Mission in Afghanistan

**PRESS RELEASE**

10 April 2025
Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

**په افغانستان کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د پلي کېدو، تنفیذ او اغېزو په اړه راپور**

**کابل، د اپریل لسمه** - په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د پنجشنبې په ورځ د افغانستان واکمنو چارواکو لخوا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د پلي کېدو، تنفیذ او اغېزو په اړه یو راپور خپور کړ.

دا راپور، د ۲۰۲۴ کال د اګست په ۲۱مه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون له خپرېدو راهیسې د شپږو میاشتو موده رانغاړي، چې په عمده توګه د هیواد په کچه د یوناما د بې پرې او ورځنیو څارنو او مشاهداتو پر بنسټ جوړ شوی چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا د یوناما د ماموریت سره سم ترسره کېږي ترڅو په افغانستان کې د سیاسي، امنیتي، بشري حقونو، ټولنیزو او اقتصادي پرمختګونو څارنه او راپور ورکړي.

شپږ میاشتې وروسته له هغه چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون پلي شو، یوناما وموندله چې د افغانستان واکمن چارواکي په ټینګ هوډ سره هڅه کوي چې خپل د سوچه اسلامي نظام لیدلوری په ټول هیواد کې پلي کړي. یوناما په مجموعي توګه د واکمنو چارواکو لخوا د دی قانون په پلي کولو کې د پخوانیو فرمانونو په پرتله د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په مشری ډېري سیستماتیک او دوامداره هڅې لیدلي.

په دې هڅو کې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه په ۲۸ ولایتونو کې د قانون د پلي کولو د ولایتي کمیټو جوړول هم شامل دي چې پکې شاوخوا ۳۳۰۰ محتسبین په دندو ګمارل شوي او پراخ اختیاري واکونه ورکړل شوي چې په ټول هیواد کې د پلي کولو عملیات ترسره کوي. یوناما همدارنګه موندلي چې دې قانون په دواړو افغان نارینه او ښځو پراخ ټولنیز اقتصادي اغیز ښندلی چې پر شخصي او عامه ځایونو، روغتیایي مرکزونو، د لباس څرنګوالي او د ښځو او نجونو پر سفر محدودیتونه زیات شوي. دغه راپور پر سوداګری، روغتیا، تعلیمي سکتور او رسنیو هم اغیزې مستند کړې دي.

راپور دا هم موندلي چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د تطبیق مستقیمي او غیر مستقیمي ټولنیزي-اقتصادي اغېزې ښایي چې د افغانستان ناوړه اقتصادی او بشري وضعیت نور هم پیچلی کړي، د ملګرو ملتونو ادارو، صندوقونو، پروګرامونو او همدارنګه د نادولتي موسساتو د وړتیا په ګډون چې د هیواد په کچه میلیونونو وګړو ته بنسټیزي بشري او انساني مرستي رسوي.

د ملګرو ملتونو امنیت شورا د افغانستان په اړه په خپل ۲۷۷۷ (۲۰۲۵) پرېکړه لیک کې "د بشري حقونو او اساسي آزادیو د درناوي زیاتېدونکي زوال په اړه خپله ژوره اندېښنه څرګندوي، په ځانګړي توګه د ښځو او نجونو لپاره د زده کړو، کار موندني، عدالت، اقتصادي فرصتونو، په عامه ژوند کې د بشپړ، مساوي او معنی لرونکي ګډون، د تګ راتګ آزادی، او د اساسي خدمتونو څخه ګټې اخیستنې ته د هغوی لاسرسي نشتون، چې په هیواد کې سوله، ثبات او سوکالي ناشونی کوي. او په دې اړه له طالبانو څخه بیا غوښتنه کوي چې ژر تر ژره د "امر بالمعروف او نهی عن المنکر" لاربنود په ګډون دا پالیسي او کړنې بیرته وګرځوي.

راپور په انګلیسي، دري او پښتو ژبو دلته د لاسرسي وړ دی.

* * *